مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ډاکټر لودویګ آدمک
ترجمه: رحمت آریا

۲۰۲۶/۰۴/۰۸

# د افغانستان بایوګرافیکي قاموس
## دوهم ټوک
(دیرشمه برخه)

### دوست محمد فضل

په ۱۹۲۳ز کال کې په کابل کې زېږېدلی دئ. د جرمني د میونیخ له پوهنتون څخه ئې په صنعتي اقتصاد کې ماستري تر لاسه کړې ده. د کانو او صنایعو په وزارت کې د صنایعو عمومي مدیر. د صدارت عظمی د محاسبې د دیوان د تفتیش رئیس. د خوراکي توکو د انستیتوت او د عامه اړتیاوو د برابرولو رئیس. له ۱۹۷۲ تر ۱۹۷۳ز کال پورې د کابل ښاروالی، ښارول. د خلقیانو د واکمنی پر مهال د اداري اصلاحاتو د مرکزي بیرو رئیس. د اقتصاد او محاسبې په برخې کې د ګڼ شمېر مقالاتو لیکوال. مورنی ژبه ئې دري ده.

### فاروق فضلي

په ۱۹۵۲ز کال د کابل پوهنتون د حقوقو او سیاسي علومو له پوهنځي څخه فارغ سوی دئ. تر ۱۹۸۰ز کال پورې ئې په دیلي، بلګراد او وارسا کې د دیپلومات په توګه کار کړی دئ. په ۱۹۸۵ز کال کې له افغانستانه ووت. مورنی ژبه ئې دري ده.

### فضل القادر

د ۱۹۷۸ز کال د مي له میاشتي راوروسته، د ملي دفاع په وزارت کې، د باندنیو اړیکو د څانګې مشر.

### فدا محمد فدائي

د ضیاء محمد فدائي ورور. د افغان ملت غړی، وروسته ئې د ملت په نوم جلا ګوند جوړ کړ. د ۱۹۶۰ز لسیزې په اوږدو کې وفات سو.

### عبدالعزیز فروغ

د خواجه محمد زوی په ۱۹۳۳ز کال کې په کابل کې زېږېدلی دئ. له ۱۹۴۴ تر ۱۹۵۶ز کال پورې په کابل کې د سلطان [1] ښوونځي ته تللی دئ. له ۱۹۵۶ تر ۱۹۶۰ز کال پورې د کابل له پوهنتون څخه د اقتصاد لیسانس اخیستی دئ.

1 -Sultan School


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

په ۱۹۶۶ز کال کي آستراليا ته د روزني لپاره لاړ. له ۱۹۶۹ تر ۱۹۷۰ز کال پورې د «وندر بيلت» [2] پوهنتون ته لاړ او ماستري ئې په اقتصاد/احصائيي کي واخيسته. له ۱۹۶۰ تر ۱۹۶۷ز کال پورې د پلان وزارت، مدير. په ۱۹۶۷ز کال کي عمومي مدير؛ له ۱۹۷۰ تر ۱۹۷۳ز کال پورې د احصائيي رئيس. له ۱۹۷۳ تر ۱۹۷۴ز کال پورې د پلان جوړوني او اقتصادي تحليل رئيس. په ۱۹۷۴ز کال کي د پلان د وزارت مرستيال وزير. مېرمن ئې نجيبه نومېږي. مورنۍ ژبه ئې پښتو ده. په ۱۹۸۴ز کال کي له افغانستانه ووت.

**فرزام** : وګورئ : فرزام

## ملا عبدالمؤمن فطرت

د ملا عبدالولي شاه زوی په ۱۸۷۹ز کال کي د بدخشان په درواز کي زېږېدلی دئ. دوديزي زده کړي او رسامي، حکاکي او خطاطي ئې زده کړه. هنرمند. په ۱۹۵۰ز کال کي وفات سو.

## عبدالرؤوف سلجوقي فکري

د مولوي عبدالفتاح سلجوقي زوی او د صلاح الدين سلجوقي د اکا زوی په ۱۹۰۰ز کال کي په هرات کي زېږېدلی دئ. د «مجلۀ هرات» مدير. له ۱۹۳۹تر ۱۹۴۱ز کال پورې د هرات د ادبي ټولني مرستيال مدير. د هرات د لرغونتون/موزيم مدير. د «مجلۀ ادبي هرات» محرر. د دري ادبياتو مؤرخ او د ميناتورۍ د هراتي سبک او د فارسي خطاطۍ متخصص. د «رسالۀ مزارات هرات» مؤلف چي د هرات د مقابرو او زيارتونو او تأريخي ځايونو په هکله ده. د کابل د کتابتونونو د خطي نسخو لومړی په لاس ليکل سوی ليست ئې جوړ کړ، (نـۀ دی چاپ سوی). شاعر. په ۱۹۷۰ز کال کي په کابل کي وفات سو. زامن ئې : عبدالرحمن، ارشاد بهزاد او وفاسلجوقي ( چي دري واړه ئې هنرمندان دي).

## عزيز الدين وکيلي فوفلزايي

د پوپلزي له اعقابو څخه چي په کابل کي د سدزويو د سلطنتي کورنۍ خدمت ئې وکړ. خطاط او مؤرخ. د افغان د دولتي مطبوعاتو رسمي مأمور. د تيمورشاه او زمان شاه سدوزي د کتابونو مؤلف. د احمد شاه په هکله ئې اثر نـۀ دی چاپ سوی. مورنۍ ژبه ئې پښتو ده.

**ايلاني** : وګورئ : **ګيلاني** [3]

## منهاج الدين ګهيځ

د قاضي برهان الدين زوی، په ۱۹۲۲ز کال کي په کوهدامن کي زېږېدلی دئ. له دارالمعلمين څخه فارغ سوی دئ. د غازي د ليسي ښوونکی. د آريانا د نقل او انتقال افسر. د اخوان پلوي جريدې ګهيځ، ناشر چي ديني او کمونيست ضد مقالات ئې درلودل. ويل کېږي چي په ۱۹۷۱ز کال کي د کيڼ لاسو له لوري ووژل سو.

---

[2] -Venderebilt University

[3] -Ailani see Gailani


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ

## عزیزه ګردیزۍ

د ډیپلومات او د ملکي مأمورينو د کوپراتیف د رئيس محمد اسحق لور په ۱۹۲۹ز کال کې په پغمان کې زېږېدلې ده چې د رحيم ګرديزي مېرمن ده؛ (رحیم ګردیزی یو دیپلومات دئ او د نجیم آریا ورور دئ). عزيزه په ۱۹۴۹ز کال کې د ملالۍ د ليسې ښوونکې وه. په ۱۹۶۰ز کال کې د معارف مديره. په ۱۹۶۱ز کال کې د مېرمنو د مجلې محرره. په ۱۹۶۲ز کال کې د رابعهٔ بلخي د ليسې ښوونکې. د مشرانو جرګې سناتوره. له ۱۹۷۴ تر ۱۹۷۸ز کال پورې د اطلاعاتو او کلتور په وزارت کې د جوايزو د کميټې رئيسه. مورنۍ ژبه ئې دري ده. اوس د امريکا په متحده اياالاتو کې استوګنه ده.

## سيد علي ګوهر

په ۱۸۹۰ز کال کې په غوربند کې زېږېدلی دئ. د غوربند خان دئ. له اوږدو مهالونو راپه دېخوا يو سياسي فعال دئ چې څو ځله زنداني سوی دئ. له ۱۹۶۸ تر ۱۹۷۳ز کال پورې په وروستۍ ولسي جرګې کې غړی. په ۱۹۷۶ز کال کې په کابل کې وفات سو.

**ګوهري**: وګورئ : ګوهري

## عبدالرحيم غفورزی

د جنرال عبدالغفور زوی په ۱۹۴۷ز کال کې په کابل کې زېږېدلی دئ. لومړنی ښوونځي ئې په هرات کې ولوست (او دا مهال پلار ئې د هرات والي وو). په ۱۹۶۴ز کال کې د حبيبيې له ليسې څخه فارغ سو. له ۱۹۶۹ تر ۱۹۷۰ز کال پورې د مکلفيت د دورې له بشپړولو وروسته د باندنيو چارو په وزارت کې شامل سو. له ۱۹۷۳ تر ۱۹۷۷ز کال پورې په ملګرو ملتونو کې د افغانستان د دائمي مأموريت غړی وو. په ۱۹۷۸ز کال ئې د باندنيو چارو په وزارت کې د سياسي او اقتصادي څانګې، د ملګرو ملتونو او نړۍ والو اړيکو د مديريت مشري وکړه. په ډېرو نړۍ والو کنفرانسونو کې ئې د افغانستان استازيتوب وکړ. د ناپيلو هېوادونو کنفرانس ته ځانګړی استازی او همدلته ئې په افغانستان باندې د شوروي اتحاد د يرغل غندنه وکړه او د ۱۹۸۰ز کال د فبرورۍ په مياشت کې ئې د سياسي پناه غوښتنه وکړه. د مجاهدينو د مبارزې په لارې کې ئې ډېرې ويناوې وکړې او د هغوی ملاتړ ئې وکړ. ليکوال او شاعر هم دئ. وادهٔ ئې کړی دئ او دوه ځله غبرګوليان بچيان لري. کورنۍ ئې هم ورسره د امريکا متحده اياالاتو ته ورغله.

## هنر غيرت

د خلق ډيموکراتيک ګوند د مرکزي کميټې علی البدل غړی. د ګوند د سازماني نظم د مشر مرستيال. (د غوايي له پاڅون وروسته) د کابل د هوايي ډګر د ګمرک مشر.

## ډاکتر محمد اشرف غني

د کوکبې لودين احمدزۍ او د شاه جان غني احمدزي زوی په ۱۹۴۹ز کال کې په کابل کې زېږېدلی دئ. په ۱۹۶۷ز کال کې د حبيبيې له ليسې څخه فارغ سوی دئ. له ۱۹۶۸ تر ۱۹۷۳ز کال پورې د بيروت امريکايي پوهنتون ته لاړ او خپل ليسانس او ماستري ئې تر لاس کړل. په ۱۹۸۱ز کال ئې د کولمبيا له پوهنتون څخه د منځني ختيځ په مطالعاتو


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې ښې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ

کي تصديق ليک تر لاسه کړ او په ۱۹۸۲ز کال کي ئـي په انتروپولوژي کي خپله دکتورا تر لاسه کړه. له ۱۹۷۳ تر ۱۹۷۷ز کال پوري د کابل پوهنتون د ادبیاتو د پوهنځي مدرس. په ۱۹۷۷ز کال کي د «دنمارک دآرهوس»[4] په پوهنتون کي مـيلمه استاد. په ۱۹۸۳ز کال کي د «برکلي، د کاليفورنيا»[5] په پوهنتون کي مـيلمه استاد. په ۱۹۸۳ز کال کي د «جان هاپکنز»[6] په پوهنتون کي د انتروپولوژۍ «پوهنمل»[7] آثار ئـي د سیاست، تأريخ او ټولنيز جوړښت په هکله دي. مورنۍ ژبه ئـي پښـتو ده.

## نور بیا

### صوفي عبدالغني غني

د عبدالشکور زوی په کابل کي زیږیـدلی دئ. دوديزي...

[قدرمنو لوستونکو! د ښاعلي رحمت آریا د آرشيف: لينک]

[4] - University of Aarhus Denmark
[5] - University of California, Berkeley
[6] -Johns Hopkins University
[7] - Assistant Professor